مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

نوروهاب ځپاند ۲۰۱۹/۰۱/۱۳

# د افغانستان له پاره چین او پاکستان خپل پلان برسیره کړ

**سرچینه: ډیلي کالر**

**د امریکا د متحده ایالاتو ویبپاڼي ډیلي کالر کي (د افغانستان له پاره چین او پاکستان خپل پلان برسیره کړ) تر عنوان لاندې لاورینس سلین چي یو «پي اچ ډي» لرونکی د پوځ د احتیاط ځواکونو متقاعد ډګروال دی، د ډیسامبر میاشتي په ۱۲ مه لیکنه کړي چي د هغې غټ ټکي ستاسو د معلوماتو له پاره را اخلم .**

هغه لیکي : په چاینا ډیلي کي چي یوه دولتي رسنۍ ده د چین د متحد پاکستان یوه لیکونکي ( پاکستان د افغانستان د سولي د بهیر کیلي ده ) تر عنوان لاندې یوه مقاله خپره کړې . هغه په کنایه او شرمونکي توګه د افغانستان د راتلونکي اړوند د چین - پاکستان د پلان په هکله ځرګندوني کړي دي .
د دې ځرګندونو ریښه د بیجینګ د حکومتي غیر تینک تانک څخه چي د چین او نړیوال کېدو مرکز نومیږي ، منشا اخلي . دا مرکز د یو شمیر لوړپوړو چارواکو له خوا جوړ او مخته بیول کیږي چي یو له دوي ، په نړیوال سوداګریز سازمان کي د چین د غړي کولو مشر مرکچي ؤ .
د نوموړي لیکوال مقاله په تیرو ۱۷ کلونو کي د بیځایه او له هغې څخه د ډډې کېدونکي جګړې ملامتي د امریکا په غاړه اچوي . خو په حقیقت کي دا پاکستان دی چي طالبانو ته خوندي ځایونه برابروي ، د هغوي د لښکر ملا تړي کوي کوم چي د نورو د ګټو له پاره جګړه پر مخ بیایي او بې شمیره خلکو ته یې مرګ ژوبله اړولې ده . د لیکونکي د نظریې خلاف ، دا د افغانستان جګړه نه ده چي ټوله سیمه یې بې ثباته او په خطر کي اچولي وي ، بلکه دا د پاکستان کورنی پالیسي ده چي اسلامي بنسټ پالني ته وده ورکوي ، د قومونو خود ارادیت تر پښو لاندې کوي او په بهرنی پالیسی کی د ترهګرۍ څخه د ابزارو په توګه د استفادې له وجې جګړه اوږدوي .
لیکوال د پاکستان تر څنګ ، له جنوبي اسیا څخه په چټکۍ د امریکا د ایستلو په چاره کي د چین ، روسیې ، ایران او ترکیې رول ته ګوته نیسي . همدارنګه د یو کمربند او یوې لارې د بالقوه نوښت ، په ځانګړې توګه د چین - پاکستان د اقتصادي دهلیز له پاره چي یورو اسیا ، یانې روسیه او منځنۍ اسیا د افغانستان له لارې د ګوادر بندر سره مښلوي ، د امریکا وتل اړین ګڼي . لیکوال ادامه ورکوي ، دا چاره هغه وخت ممکنه ده چي د ویتنام په څیر امریکا له افغانستان څخه په بشپړه توګه ووځي او پاکستان کولی شي د هغوي د خوندي وتلو اسانتیا برابره کړي . تر څو چي امریکا وتلو ته غاړه کیږدي ، تر هغې به طالبان په افغانستان باندې خپل بریدونه جاري ساتي . د لیکوال په نظر د کیسي په پای کي د چین د یو کمربند او یوې لارې نوښت او د شانګهاي د ترون اهداف هغه وخت ترلاسه کیږي چي د چین - پاکستان پلوي باثباته افغانستان را منځ ته کېدل یقیني شي .
دلته د چین - پاکستان پلان داسې ډاګیزه کیږي :
د چین متحد پاکستان به په افغانستان کي د طالبانو بریدونه زیات کړي چي د هغه هېواد حکومت کمزوری شي او په امریکا به دومره زور راوړي چي هغه د وتلو معاملي ته غاړه کیږدي . د پاکستان ، ایران ، روسیې او ترکیې سره جوخت به چین هم د منځګړتوب رول خپل کړي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

د افغانستان له پاره به یو ایتلافي حکومت چې د طالبانو ، منځلارو پاکستاني - چینایي پلوه افغان سیاستوالو څخه جوړ وي ، وړاندیز شي . د دې سره جوخت به د امریکا او ناټو ځواکونو د وتلو مهالویش هم تیاریږي.
افغانستان ته به د چین - پاکستان په اقتصادي دهلیز کې د اشتراک بلنه ورکړل شي ، د شانګهاي د سازمان اصلي غړيتوب ته به پورته شي چې د هغه هېواد د بیا جوړوني او ودې اساس برابروي .
پاکستان به د طالبانو د ملاتړ څخه لاس اخلي او د چین - پاکستان د ترهګرۍ ضد ځواکونو سره چې نور طالبان له افغانستان څخه لیرې باسي یو ځاي شي ، د کوم څه له پاره چې لا له وړاندې مشترک تمرینونه تر لاس لاندې دي او له کله چې په کابل کې د چین او پاکستان پلوی حکومت تثبتیږي .
د جنوبي اسیا د اقتصادي ولکه کولو له پاره به چین په بلوچستان او عرب سمندرګي کې پوځي اډې جوړوي او په دې توګه به د هند سمندر د شمال او د فارس خلیج د اساسي سمندري لارو کنترول په لاس کې اخلي . په جیبوتي کې چینایي سمندرې اډه به د جنوبي چین د سمندرې اډو سره وتړي او هندوستان به کنج ته کړي .
د انګیزي له مخې د خبرو اترو میز ته په طالبانو تمرکز ، ښیي چې د امریکا حکومت د چین- پاکستان د پلان په وړاندې په جنوبي اسیا د غلبې کولو کومه ستراتیژي نه لري .

**یادونه:**

که د لاورینس سلین لیکنې ته چې د پاکستاني لیکوال د هغې لیکنې په تړاو شوي چې سرچینه یې د بیجینګ تینک تانکً د چین او نړیوال کېدو مرکز څخه منشا اخلي ، وګورو وینو چې پاکستان ، چین ، روسییه ، ایران او ترکییه د خپلو ګټو د خوندي کولو په موخه په مشترک ډول د افغانستان ځمکه کاروي ، جګړې ته ابعاد ورکوي او ان د سولې چاره په خپل لاس کې نیسي . د افغانستان له پاره د موقتي حکومت طرح راباسي او د افغانستان راتلونکی اقتصادي ټولنیز انکشاف پلانوي او چین ته په سیمه کې د امریکا د بدیل په توګه وړ ځاي لټوي .
د افغانستان د حکومت دننه ، په سیاسي تنظیمونو ګوندونو ، مدني ټولنو او د عامو افغانانو په منځ کې یو تعداد کړې او ځینې مستقل شخصیتونه هم په یو شمیر کچو کې د ورته نظر پلوي او یا مشابه طرحو ته عملي کار کوي . څکه په ډیرو ملي پریکړو کې د نظر تشابه او ورته والی کمزوری ښکاري . که د افغانانو اګاه کتګورۍ دغو حساسو او سرنوشت ټاکونکو مسألو ته له ملي افغاني لیدلوري پام ونه کړي ، ډیره ستره تیروتنه به وشي چې د هغې جبران به بیا په هره بیه ناشونی وي .
له دې کبله د سولې د بهیر ، د نړیوالې ټولنې سره د مشارکت ، د افغانستان د هر اړخیز انکشاف او سلامت مسألې زموږ ټولو هېوادنی چلن ایجابوي !

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ